مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

قاسم باز
۲۰۲۳/۱۱/۱۲

# سړی څه ووایی ؟
# سړی باید حقیقت ووایی. !

څه موده مخکښی ما د افغان – جرمن انلاین د نظر سنجی او د دعوت په ملی ویب سایت کی یوه کوچنی لیکنه د خپل سفر د سترګو لیدلی حال تشریخ کړ. البته هاغه څه چی ما په خپلو سترګو ولیدل، حس او لمس می کړل ولیکل، خوشبختانه زما په لیکنه کی هاغه څه چی ما لیکلی وه هیڅ یوه ځوان اوزوړیوه جمله هم رده نشوه کړای.
کوم موضوعات چی ما په خپله لیکنه کی لیکلی وه ټول حقیقت و مبالعه نه وه، له بده بخته زما هاغه کوچنی لیکنه زما یو پخوانی اشنا، عبدالباری جهانی او ځنو خود غرضه افغانانو د خپل سیاسی کمونستی او اخوانی دریځ له مخی سبوتاژ کړه ، دوی پر ځای ددی چه د افغانستان په ابادی خوشحاله شی خوابدی شول حتا یو بی هویته زه د طالب طرفدار او چری هم و باللم ، در حالیکه زه نه طالب یم او نه د طالب په اصول برابر افغان. دی بدرنګه انسان په خپله اعتراضیه لیکنه کی چی د افغان جرمن – انلاین د نظر سنجی په ستون کی تر همدی دمه پرته ده وجود لری ماته یی داسی ولیکل ، زه د خلقیانو په دوره کی پنځه کاله بندی شوم ، در حالیکه د خلقیانو دوره یو کال او ۷ میاشتی وه، کله چی ببرک کارمل د ۱۳۵۸ کال د جدی د میاشتی په ۸ تاریخ د افغانستان سیاسی قدرت پلاس کی واخیست هاغه د یوه فرمان په صادره ولو د خلقیانو د دوری ټول سیاسی بندیان خوشی کړل. نه پوهیږم چی دی ساختګی مبارز چیری او کوم ځای کی شمشیر وهلی و چی هم د خلقیانو په دوره او هم د پرچمیانو په دور کی هاغه هم پنځه کاله محبوس پاتی شو.؟
عجب رجب دی!
په هر صورت. اوس ۲۱ قرن دی هر څوک پف کولای شی. رابه شم اصلی موضوع ته. کله چی زه په کابل کی وم زما یو تعداد دوستان د امریکا او لندن څخه کابل ته راغلل، ددی ګروپ په منځ کی زما د ورور کاکا خسر جناب عبدالهادی دولت زی ، هاغه څوک چی د جناب داکتر عثمان روستا تره کی سره یو ځای قندهار ته تلای و هم ملګری و، دوی د دو ورځو انتظار وروسته د ااا د رهبر سره لیده کاته شوی وه ، دا چی په هاغه لیدنه کتنه کی روستا تره کی او د امارت مشرتابه څه وویل په هغی نه پوهیږم او تبصره هم پری نشم کولای. خبره اوږده کیږی، زه به په همدی لیکنه کی زما د دوستانو او هاغه خپلوان چی د جناب داکتر صاحب عثمان تره کی سره قندهار ته تللی عکس نشرکړم تر څو حقیقت پوره واضح شی ، ما او دی کابل ته راغلو دوستانو به په کابل کی په هفته کی یو یا دوه ځله سره لیدل ، زما دا دوستان کابل ته د خپلو وطنوالو د خدمت لپاره راغلی وه. دوی د خپل اقامت په موده کی د ااا د یو شمیر دولتی لوړ رتبه اراکینو سره لیدنه کتنه وکړه دوی زما څخه هم غوښتنه وکړه تر څو زه ددوی سره پدی لیدنو کتنو کی برخه واخلم . زما ځواب دوی ته دا و، چی وروڼو زه نه د طالب په اوصولو برابر یم نه هغوی زما په اوصولو ،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

امارت هاغه ځوک چی د دوی د تحریک څخه بیرون وی خبرو ته یی غوږ نه نیسی ، نو ښه داده چی ما ددی ملاقاتو څخه معذور وګنی او همداسی می هم وکړل. منتقیدینو ، زه د ستاسی په شان نه یم چی ښو ته بد ووایم او بدو ته ښه، زه هیڅ وخت ښه اعمالو ته بد نه وایم بدو ته می همیشه بد ویلی او وایم. ګرم شه لا ګرم شه. دادی زما دوستان زما سره زمونږ د پغمان په بڼ کی.






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ



در این عکس: از راست به چپ.
۱ – جناب داکتر حلیم تنویر ۲ – جناب انجینر عبدالله حکمتی ۳ – جناب عبدالله نوابی ۴ – قاسم باز ۵ – جناب محترم کبیرخان محسینی ۶ – جناب عبدالهادی دولت زی.

https://www.facebook.com/abdul.nawabi.1/posts/pfbid02iSrEYtKZYFjrs1DDSoyiFBZc3f42ToMNs8DCF7eYRJcH35S2utJwusv9yyMyxYmLl


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ